# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۲۵۲ ګڼه / سه شنبه ۱۳ صفرالمظفر ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۷ سنبله ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۹ اگست ۲۰۲۳ میلادي


## پامیر کولا کمپنۍ فرانسې او ترکیې ته صادرات پیل کړل

د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد پرخپله ټویټرپاڼه لیکلي چې فرانسې هېواد ته به د دغې کمپنۍ له لوري جوړې شوې د بېلابېلو مېوو اوبه، نوشابې او نور هغه تولیدات صادرېږي چې په لوړ معیار تولید شوي دي.نوموړي دغه راز لیکلي




چې ترکیې ته د پامیر کولا له لوري هغه توکي صادرېږي چې د هېواد صنعتي کمپنۍ یې په ښه کیفیت تولیدوي.د یادونې وړ ده چې تر دې وړاندې هم اروپا او امریکا ته یو شمېر توکي او نوشابې صادرې شوې دي.

## مسؤلان محلی سرپل خواستار تطبیق پروژه‌های انکشافی شدند



شماری از مسولان محلی سرپل، در دیدار با معاون اداری ریاست الوزراخواستار تطبیق پروژه‌های انکشافی و استخراج معادن در آن ولایت شدند. دفتر مطبوعاتی معاونیت اداری ریاست الوزرا دیروز در خبرنامه‌ی نوشته است: مولوی عبدالبصیر مظهری، قومندان امنیه سرپل و شماری دیگری از مسئولان آن ولایت در دیدار با مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا... ص۵

### نعیم‌الحق حقاني:
## د پاسپورت ترلاسه کول د هر وګړي قانوني حق دی

د هرات د اطلاعاتو او کلتور رییس مولانا نعیم الحق حقاني وایي چې د پاسپورټ ترلاسه کول د هر وګړي حق دی او د ترلاسه کولو لپاره یې ګڼه ګونه له هېواده د تېښتې په معنی نه ده.هغه زیاته کړه، چې ځینو مغرضو رسنیو داسې آوازې خپرې کړې چې دلته ګواکې خلک پتنګ شوي او نه غواړي دلته ژوند وکړي، خو خبره برعکس ده په افغانستان کې اوس امنیت ټینګ شوی، د بیارغونې چارې په ښه توګه مخته روانې دي او په هېڅ صورت سره خلک له هېواده تېښته نه کوي.د یادونې وړ ده، چې د پاسپورت مدیریت په دې وروستیو کې د پاسپورت د وېش لړۍ ډېره کړې او هره ورځ ۱۵۰۰ ټوکه پاسپورتونه وېشي.



## میدان وردګو کې ۲۰ ژورې څاه ګانې کیندل کېږي



د میدان وردګو په درېو ولسوالیو کې د څه باندې ۳ میلیونو افغانیو په لګښت ۲۰ ژورې څاګانې کیندل کېږي.د میدان ښار سینډیزې حوزې رئیس مولوي عبدالصمد حلیم د ترکیې هېواد د اوبو د څاګانو نړیوالې ټولنې له ولایتي مسوول انجنیر سنګر افضلي سره په کتنه کې ... ۵مخ

## علاقمندی سرمایه گذاران ازبیکستانی در معادن افغانستان

معین وزارت معادن و پترولیم در دیدار با هیئت از ازبیکستان روی سرمایه گذاری آنکشور در معادن افغانستان بحث کرد. دفتر مطبوعاتی وزارت معادن پترولیم با نشر این خبر گفته است: در این دیدار انجنیر وحید الله حلیمی معین تخنیکی آن وزارت در



مورد شرایط و مساعد بودن زمینه های سرمایه گذاری در افغانستان معلومات داد.هیئت بلند رتبه ازبیکستان علاقمندی سرمایه گذاران آنکشور را روی سرمایه گذاری درمعادن افغانستان بیان داشت٬ جانب افغانی متعهد به همکاری با آنان شد.

## غزني کې د باباجي تاریخي جومات بیارغونه پیلېږي

د آغاخان فرهنګي بنسټ په غزني کې د باباجي تاریخي جومات د بیارغونې سروې ترسره کړه.غزني ته د آغاخان فرهنګي بنسټ د پلاوي مشر انجنیر فضل کریم احمدي د باخترآژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې یاد بنسټ غواړي سږ کال د باباجي تاریخي جومات د بیا رغونې لپاره لومړنې استحکام بندي ترسره کړي، تر څو د اساسي رغونې مودې لپاره یې د نړېدو مخنیوی وشي.
نوموړي زیاتوي چې د دوی پلاوی همداشان د دغه تاریخي جومات سروې، برآورد او اسناد سازي کوي، تر څو په راتلونکي ... ۵مخ


## کمک برنامه جهانی غذا برای ۱۶ میلیون تن در افغانستان

برنامه جهانی غذای سازمان ملل متحد (WFP) اعلام کرده است که در نیمه نخست سال جاری میلادی، برای بیش از ۱٦ میلیون فرد آسیب‌پذیر در افغانستان، مواد غذایی کمک کرده است.در توییتر برنامه جهانی ... ص۵




## کابل کې د بېلابېلو ادارو لپاره نوي جوازونه وېشل کېږي

کابل ښاروالۍ اعلان کړی؛ چې د بازارونو د تنظیم په موخه به په کابل ښار کې د بېلابېلو سوداګرو لپاره نوي جوازونه وېشي.د کابل ښاروالۍ مطبوعاتي دفتر د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي؛ چې په همدې موخه د مالیې او اداري معین؛ سید



### ملګریه ولې بدل شوې!
۳ مخ

### بررسی نقش مردم در ایجاد امنیت اجتماعی
۲ مخ

### په اسلامي تاریخ کې د حکومتونو د سقوط عوامل
٤ مخ

## ٦ ولایتونو کې د ګوزڼ ضد ۴ ورځنۍ کمپاین

د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د ملاتړ صندوق «یونسېف» وایي پرون د افغانستان په شپږو ولایتونو کې د ګوزڼ پر ضد د واکسیناسیون څلور ورځنۍ کمپاین پیلېږي.تېره اوونۍ هم په ګڼو ولایتونو کې د ګوزڼ ضد واکسین کمپاین ترسره شو چې څه باندې ۱۱ میلیونه ماشومان ته پکې واکسین ورکړ شو.سره ... ۵مخ

## کابل کې په خوارځواکۍ د اخته ماشومانو لپاره نوی بستر جوړ شو

د عامې روغتیا وزارت پلازمېنې کابل ښار اړوند رحمان مېنې روغتون کې په خوارځواکۍ د اخته ماشومانو لپاره د نوې څانګې د پرانیستل کېدو خبر ورکړی دی.یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د یادې څانګې په پرانیستل کېدو سره به د کابل مرکزي روغتونونو د تغذيې په څانګو کې د ناروغانو ګڼه ګونه کمه



او په خوارځواکۍ د اخته ماشومانو مړینه به ورسره راکمه شي.د یادونې وړ ده، چې تر دې وړاندې د کابل ښار د احمدشاه بابا مېنې روغتون، ایرینا سلیمي روغتون د فرانسویانو روغتون او د دشت برچي روغتون کې د خوارځواکه ماشومانو د بستر کېدو لپاره څانګې پرانیستل شوې وې، چې ټول په بشپړ ډول وړیا خدمتونه ترسره کوي.

### والی کابل :
## مساجد، محور بزرگ وحدت مسلمانان هستند

والی کابل هنگام افتتاح مسجد جامع زینبیه شهرک امید گفت: مساجد، محور بزرگ وحدت مسلمانان هستند و باید سعی کنیم که ادب ان را رعایت کنیم.دفتر مطبوعاتی والی کابل دیروز با نشر این خبر گفته است :شیخ محمد قاسم خالد ... ص۵



## گشایش نخستین مرکز تعیین درجه ی شنوایی درکندز

نخستین مرکزتعیین درجه ی شنوایی درکندز دیروز گشایش یافت. این مرکز، در شفاخانه ی البیرونی کندز گشایش یافته است و ازهمین حال، روند مراجعه ی بیماران به این درمانگاه، روز افزون شده است. مسوولان ریاست صحت عامه کندز این اقدام را در راستای ارایه خدمات صحی یک گام مثبت عنوان کرده در بخش های تجهیز بیشتر نهاد سازی وعده و تاکید کرده است. داکتر نجیب الله ساحل رییس صحت عامه کندز درمراسم گشایش این مرکزگفت که که با گشایش مرکزتشخیص درجه ی شنوایی، نیازمندی بیماران درشمال شرق افغانستان رفع خواهد شد. داکتر عبدالستار غفور رییس شفاخانه خصوصی البیرونی می‌گوید هدف از ایجاد مرکز تشخیصیه شنوایی در کندز جلوگیری از سرگردگانی مردم و رفتن شان تا کابل و کشورهای برونی است.

### سرمقاله
## د هیواد خپلواکي په سرښندنو ترلاسه شوې

د اسلامی امارت د مجاهدینو په سرښندنه اوس افغانستان یو آزاد او خپلواک هېواد دی، لاس وهونکی اشغالګر هیوادونه دې نورې فرمایشي ترانې نه زمزمه کوي او په موږ دې خپل فرمایشي او تپلي حکومتونه چې د دوی پروژې اوموخې پلي کوي نه را تپي. موږ له نړیوالو سره د ښو اړیکو او تعامل غوښتونکي یو او زموږ له هیواده تښتیدلي باغیان او مفسدین دې بیا هغه خوبونه نهویني کوم چې د افغانستان ویاړلی تاریخ او وقار یې اشغالګرو ته په پښو کې کېښود. اوسنی په لاس راغلی آزادي موږ د دوه نیم میلیونو شهیدانو په قربانۍ ترلاسه کړې او هېچاته به ددې اجازه ورنه کړو چې یو ځل بیا مو د هیواد او ملت په سرنوشت لوبې او ملنډې ووهي. تښتیدلو هیواد او ملت ته آزموینه ورکړې او ملت هېڅکله هغه اشخاص بیا نه غواړي چې د دې هیواد او ملت ملي شتمنې یې لوټ او تالا کړې ده،اوس واک د دې ملت رښتینو او اصلي بچیانو ته په لاس ورغلی او په هېڅ شکل به د نړیوالو استعماري او استکباري طاقتونو هغه فرمایشات ونه مني،چې د هیواد او ملت په زیان تمام شي او په همدې موخه یې شل کلنه اوږده مجاهده کړې،چې بالاخره یې د امریکا په مشرۍ نړیوالو اشغالګرو ځواکونوته ماتې ورکړه او افغانستان یې د یرغلګرو ځواکونو له منګولو ... ۵مخ

# د سايبري، انټرنيټي او کمپيوټري جرمونو ترمنځ توپيرونه

**نوروز خان ـ خوشحال**

**سريزه**

ښايي په افغانستان کې سايبري، انټرنيټي او کمپيوټري جرمونه کم او رېدل شوي وي، خو داسې هم نه ده چې دغه شان پېښې دې نه وي په کې شوې په تېرو کلونو کې زموږ په هېواد کې سايبري، انټرنيټي او کمپيوټري جرمونه په مختلف ډول ثبت شوي، چې په راتلونکې کې بايد ورته رسېدنه وشي.

ځکه په افغانستان کې ۸۵سلنه وګړي مخابراتو ته لاسرسی لري او شاوخواه دري ميليونه خلک انټرنيټ کاروي، خو د سايبري، انټرنېټي او کمپيوټري جرمونو اصطلاح ګانو سره آشنا نه دي.

نو ځکه لکه نوره نړۍ په افغانستان کې په دې تړاو ګواښونه شته او د يادو جرمونو توپيرونه مهم دي چې ځانونه ور باندې خبر کړو.

سايبري، انټرنېټي او کمپيوټري جرمونه که څه هم په افغانستان کې نوي اصطلاحګانې دي، خو په دغه هيواد کې د انټرنيټ له چټکتيا سره سم دغه اصطلاحګانې هم ورځ تر بلې په عامېدو دي، کله ناکله زموږ هيوادوال کمپيوټري جرمونه، انټرنېټي جرمونه او سايبري جرمونه په يو مانا او مترادف ډول استعمالوي خو داسې نده.

ځينې حقوق پوهانو د سايبري، انټرنېټي اوکمپيوټري جرمونو لپاره مختلف تعريفونه او نظرونه وړاندې کړي دي.

لکه پروفيسور شيک چې د اتريش هيواد يو حقوق پوه دی چې کمپيوټري جرمونو په اړه داسې نظر لري، کمپيوټري جرمونه هغه مجرمانه عمل ته ويل کيږي چې د جرم ارتکاب لپاره د کمپيوټر او د هغې وسايلو څخه کار اخيستل کېږي. يعنې کمپيوټري جرمونه د کمپيوټر او د هغه تجهيزاتو په ذريعه په يو مشخص ساحې کې را منځ ته کيږي.

انټرنېټي جرم يوه جرمي انټرنېټي کړنه ده چې کمپيوټر، انټرنېټي آله، انټرنېټ او افراد په کې شامليږي او دوه سترې موخې لري:

۱- د پيسو تر لاسه کول.

۲- معلوماتو ته لاس رسی پيدا کول چې د ادارو او وګړو کړنې په خپل کنټرول کې واخلي او امتيازي ګټې ترې واخلي.

انټرنېټي جرمونه بېلا بيل ډولونه لري او موخې يې مختلفې دي. له سياسي موخو نېولې بيا تر سوداګريز رقابت او سقوط په پار دا ډول بريدونه کيږي. اوسايبري جرمونه اکثره په غير مملوس فضا (سايبر سپيس) کې را منځ ته کېږي د حقوقو په لحاظ، سايبري جرمونه داسې تعريف کوو( هر هغه اقدام چې د مجازي فضا له لارې او يا هم مجازي فضا سره د اتصال وسيلو په کارولو سره ترسره کېږي او د چا شخصي، انټرنيټي يا کمپيوټري حريم ته د ننه شي د قانون له مخې په سايبري جرمونو کې ښکېل بلل کېږي.

يعنې هر څوک چې د چا شخصي انټرنيټ يا کمپيوټري حريم ته دننه شي د قانون له مخې په سايبري جرمونو کې ښکېل بلل کېږي.

**پايلې:**

مجازي فضا د اړيکو هغه شبکه ده چې له مختلفو هاردويرونو اوسافتويرونو لکه کمپيوټر، مبايل، لب ټاپ او انټرنېټ څخه په ګټې اخيستنې سره د نښليدو امکان رامنځته کوي. خو په کلي توګه کمپيوټري، انټرنېټي او سايبري جرمونه کمپيوټر سره يو ځای پيدا شويدي:

سايبري، انټرنېټي او کمپيوټري جرمونه د عصري ټکنالوژۍ څخه دي چې جالب او عمده توپيرونه لري چې په لاندې شرحې دي:

**الف- کمپيوټري جرمونه:**

کمپيوټري جرمونه هغه دي چې کمپيوټر او د هغه تجهيزاتو په واسطه رامنځته کيږي يا هم موضوع د جرم کمپيوټر يا کمپيوټري وسايل وي لکه جعل، تذوير او تخريب او ...

د کمپيوټري جرمونو ساحه محدوده ده کولي شو آثار او مدارک يې د کمپيوټر په واسطه حاصل کړو )زبير، ۲۰۱۱: ٦٤٣).

**ب-انټرنيټي جرمونه:**

د امريکا متحدو ايالتو عدليې وزارت انټرنېټي جرمونه په دريوو برخو ويشلي دي او سرغړونکو ته يې د همدې دريوو کټګوريو پر بنسټ سزا ورکول کيږي او قانون پرې پلې کيږي:

هغه انټرنېټي جرمونه چې کمپيوټرونه په کې موخه ګرځول کيږي د بېلګې په ډول، نيټورکېنګ ته لاس رسی پيدا کول.

هغه انټرنيټي جرمونه چې کمپيوټر په کې د يوې وسلې په ډول کارول کيږي د بېلګې په ډول کمپيوټري سيستم له کار کولو غورځول.

هغه انټرنېټي جرمونه چې کمپيوټر په کې د سايبري جرم وسيله ووسي لکه معلوماتو ته په کې لاس رسی پيدا شي.

**ج- سايبری جرمونه:**

سايبری جرمونه هغه دي چې کمپيوټري دستګاه په کښې په نښه کيږي د مثال په توګه شبکې ته لاسرسی. سايبري جرمونه هغه دي چې په مجازي فضا کې رامنځ ته کيږي او آثار او مدارک يې په حقيقی نړۍ کې ظاهر کيږي لکه په غير مجاز ډول نفوذ کول، په غير مجاز ډول اوريدل، د ويروس خپرول، د کمپيوټري چينجي انتشارول او...

سايبري جرمونه هغه دي چې کمپيوټر د وسلې په توګه په کې کارول کيږي د بيلګې په توګه په خدماتو باندې بريدونه.

سايبري جرمونه هغه دي چې کمپيوټر د ډله ايز وسيلې سرليک په عنوان لاندې کارول کيږي. پورتني توپيرونه د کمپيوټري، انټرنېټي او سايبري جرايم په دې ليکنه کې تاسو ټولو قدرمنو ته وليکل شو هيله ده چې په دې برخه کې تاسو ته لازم پوهاوی شوی وي.


منابع

زبير، اولريش، ۱۳۹۱، د سايبر حقوق سريزه، اول چاپ ، د ميزان انتشارات ، تهران.

سايټونه:

۱-http://www.sid.ir.

۲-https://www.bbc.com.


# بررسی نقش مردم در ایجاد امنیت اجتماعی

**نویسنده: پوهنیار محمدعارف»عازم«**

امنیت به عنوان نیاز اساسی برای افراد جامعه در ارتباط متقابل به عوامل اقتصادی، اجتماعی وفرهنگی می باشد، امروزه نقش واهمیت این مسأله در پیش رفت هر جامعه ای تا بدان پایه است که آن را بستر وپیش نیازهرگونه توسعه ای می دانند، وجود امنیت اجتماعی به عنوان یکی از تمهیدات در راستای حفظ حیات گروه های اجتماعی وبر خورداری آنها از فرصت ها وامکانات وتسهیلات به منظور دست یابی به اهداف مورد نظر خویش مطرح شده است، دراین راستا معنای امنیت اجتماعی به عنوان یک مفهوم پیچیده هرچند که تعریف آن به عنوان یک پدیده ادراکی واحساسی است، مورد توجه قرار گرفته است، هدف اصلی این مقاله نقش مردم در ایجاد امنیت وتأثیرات آن بر امنیت اجتماعی در جامعه می باشد. که بصورت مختصربه بررسی وتبیین آن می پردازیم.

باید توجه داشت که امنیت اجتماعی به حوزه رفتار میان مردم بامردم و روابط شهروندان با یکدیگربازمی گردد؛ هرچند که برخی آن را به رفتار مردم با دولت ویا دولت با مردم تعمیم داده اند؛ ولی به نظر می رسد که بخشی تبیین کننده حوزه ارتباط شهروندان با دولت ودولت با شهروندان است، حوزه امنیت سیاسی است که دارای دو بخش خارجی وداخلی میباشد، امنیت اجتماعی در قالب روابط بین شهروندی باید به گونه ای فراهم آید که هیچ شهروندی حق وحقوق شهروندی دیگری را درمناسبات اجتماعی تضییع، مخدوش ومختل نسازد، بلکه هریک بتوانند درچهارچوب امنیت شهری زندگی در سایه آرامش وامنیت را تجربه کنند، اگردرجامعه ای، افراد برخلاف قوانین رفتارکنند شهروندی یکدیگر را مراعات نکنند، چنین جامعه ای به بحران فقدان امنیت اجتماعی مواجه است وشهروندان آن احساس امنیت را از دست می دهند، برای تامین امنیت اجتماعی افزون بر نقش دولت به عنوان قانون گذار وایجاد کننده امنیت، باید به نقش مردم وشهروندان درایجاد وبقای آن توجه بیشتری مبذول کرد؛ زیرا این شهرواندان هستند که در حقیقت ایجاد کننده وحافظ امنیت اجتماعی هستند.

آموزش های مستقیم وغیر مستقیم جامعه پذیری نقش اساسی در تامین امنیت اجتماعی در جوامع بشری دارد. پس باید به کودکان ونوجوانان وجوانان آموخت همان طوری که مطالبه گر حقوق شهروندی خود هستند باید حقوق شهروندی دیگران را نیزمراعات کنند، امنیت جانی وعرضی وناموسی، درچهارچوب امنیت اجتماعی معنامی یابد، پس جامعه باید چنان باشد که شخص در امنیت کامل جانی باشد وکسی تهدید به قتل نشود؛ درعین حال باید امنیت اخلاقی نیز در آن جامعه فراهم باشد وآبروحثیت اشخاص وناموس آنان تهدید نشوند.اگر درجامعه ای شرایط به گونه ای باشد که آبرو وحثیت افراد در معرض خطرقرارداشته باشد یا کسانی تهدید به آدم ربایی ورفتارهای خشین وبه عنف کننده، آن جامعه فاقد امنیت اجتماعی است، دولت باید تلاش کند تا با بهره گیری از ابزارها وامکانات، از جمله نیروی امنیتی، امنیت اجتماعی را تامین کند واجازه ندهد که شهروندی آبرو وحثیت آنان درمعرض خطرقرارگیرد.

امنیت اجتماعی ازنظر قران: ازنظر قران، امنیت اجتماعی درقالب امنیت اخلاقی، جانی وعرضی بسیار مهم واساسی است، از این رو دروصف امنیت مکه، به امنیت اجتماعی شهروندان مکی اشاره می کند وبا قاعده(تعریف الاشیاء باضدادها) به فقدان امنیت دربیرون مکه ووجود امنیت در مکه به اهمیت وارزش آن توجه میکنند، خداوندج درآیه(٢٦) سوره انفال به ارزش امنیت جانی وتامین آن توجه می دهد وآن را نعمتی الهی وسزاوار سپاس گذاری می داند وازمردم می خواهد شاکر نعمت امنیت جانی باشند که خداوند برایشان فراهم کرده است،امنیت اجتماعی باید درشهر وخانه فراهم باشد، به طوری که شهروند درشهر وکاشانه خویش احساس امنیت بکند ترس وحراس از تجاوز، غارت وقتل نداشته باشد.

همچنان حفظ امنیت محیط خانه دیگران به خیر وصلاح همگان است(نور، آیه ۲۷) وافراد باید تلاش کنند تا این امنیت برای همگان فراهم آید، البته برای کسانیکه به دلایل کاری وجهادی ومانند آن از خانه وکاشانه خود بیرون می روند، سزاور است که این امنیت به شکل ویژه ای از سوی شهروندان تامین شود نه آنکه با ایجاد محیط نا امن در محیط کاشانه وخانه، فعلان اقتصادی وتجارومجاهدان در تنگنا قرار گیرند وبه سبب ترس ازنا امنی محیط خانه وکاشانه به سفر وجهاد نروند، البته خداوندج خود، امنیت خانه وکاشانه مومنان را تضمین کرده است(احزاب، آیه ۱۳) ولی بردیگر شهروندان است تا به مسؤلیت اجتماعی خود عمل کنند وبا رفتارهای نا مناسب مخل امنیت نشوند، درهمین راستا خداوند درآیه(۲۷) سوره نور برای تامین امنیت شهروندان درخانه وکاشانه ومحیط خانوادگی بر لزوم پرهیز از سلب امنیت محیط منازل دیگران با ورود ناگهانی وبدون اذن اسلام تاکید می کند، به سخن دیگر، هرشهروندی باید به گونه ای عمل کند که موجبات سلب امنیت محیط های منازل فراهم نشود. هکذا امنیت مطلق یک امر مطلوب است که انسان به طوری فطری وطبیعی در تلاش برای کسب وتامین آن است، دراین میان تامین امنیت اجتماعی یکی از مهمترین اقسام امنیت همواره مدنظر انسان، جوامع ورهبران بوده است؛ زیرا جامعه ای به رشد وشکوفایی می رسد وازنظر اقتصادی وآسایشی رشد می کند که درآن امنیت اجتماعی تامین باشد؛ زیرا وقتی امنیت اجتماعی تامین باشد، به طور طبیعی حقوق افراد جامعه وشهروندان آن تضییع نمی شود وطبقات اجتماعی به یکدیگر ظلم نمی کنند. این گونه است که جامعه حتی ازامنیت هایی چون امنیت اقتصادی برخوردار می شود، هرانسان به بدنبال امنیت از جمله امنیت اجتماعی ست تا بتواند آرامش و آسایش را به دست آورده وخوشبختی وسعادت را تجربه کند، ازاین روحضرت یوسف (ع) به خانواده خویش وعده می دهد که «ان شاء الله) در مصر در امنیت خواهند بود.یوسف آیه (۹۹)

چشم چرانی از پنجره ساختمان، ورود بدون اذن ویا ناگهانی ومانند آن که موجب سلب امنیت است باید ازسوی شهروندان کنار گذاشته شود، درحقیقت آنچه بیان می شود بیان مصداقی است وگرنه هدف اصلی همان تامین امنیت به هرشکلی وپرهیز ازهمه عوامل سلب امنیت از محیط ومنازل وخانه وکاشانه است، امنیت راه ها نیز درساختار امنیت اجتماعی تعریف می شود؛ به این معنا که نیروی انتظامی مسؤلیت تامین امنیت راه ها را به عهده می گیرد تا مال وجان وعرض مردم در مسیر به دست دزدان غارت نشود واز میان نرود، چون که تامین راه ها نه تنها امنیت اجتماعی بلکه تامین کننده امنیت اقتصادی نیزاست. همچنان امنیت اماکن مقدس وبرگزاری مراسم وآیین های مذهبی نیز درساختارامنیت اجتماعی معنا می یابد، اگر امنیت اماکن مذهبی وبرگزاری مراسم وآیینی تامین شود، می توان گفت که امنیت اجتماعی به شکل کامل فراهم آمده است سوره بقره آیات(۱۹۱و۱۹۵). طوریکه گفته شده تامین امنیت اجتماعی تاثر مستقیم وغیرمستقیم برای دیگرابعاد وشاخه های امنیت ازجمله امنیت اقتصادی دارد، بناً از مباحث فوق معلوم می شود که تامین امنیت اجتماعی موجب رشد وشکوفایی گردشگری، علم ودانش، تبادلات فرهنگی ومانند آنها می شود، بنابرین، نمی توان امنیت اجتماعی را در محدوده وچارچوب بسته ای درنظر گرفت، به سخن دیگر، امنیتی که تبلور رحمت الهی است، با رفتارهای افراد یا جامعه ای از میان می رود، بنابرین چنین افرادی به عنوان عامل تخریبی رحمت الهی ومفسدان درزمین باید مجازات شوند، بر اساس آیات قرآن واحادث پیامبر(ص)، مهم ترین خطرهایی که امنیت جامعه بشر را تهدید می کنند، عبارتند از:ظلم وبی عدالتی، تفرقه واختلاف سیاسی واجتماعی، تجاوزبه حقوق دیگران وناسپاس نعمت های الهی. اینها عامل درون اجتماعی است، این بدان معنا خواهد بود که تامین امنیت اجتماعی دارای یک ساختار پیچیده ای است که نمی توان تنها با تامین بخشی یا بخش های به هدف رسید. همچنین باید دولت ها وحکومت ها بدانند که تنها با تکیه برقدرت اطلاعاتی ونظامی وتامین امنیت خارجی، نمی توان امنیت اجتماعی جامعه را تامین کرد.

از مطالعه پیرامون موضوع، چنین برمی آید؛

امنیت به عنوان نیاز اساسی برای افراد جامعه در ارتباط متقابل به عوامل اقتصادی، اجتماعی وفرهنگی می باشد، وحفظ امنیت در جامعه متکی به ارزش های انسانی واخلاقی بوده واحترام گذاشتن به حقوق دیگران میباشد، بر اساس آیات قرآن واحادث پیامبر(ص)، مهم ترین خطرهایی که امنیت جامعه بشر را تهدید می کنند، عبارتند از:ظلم وبی عدالتی، تفرقه واختلاف سیاسی واجتماعی، تجاوزبه حقوق دیگران وناسپاس نعمت های الهی. اینها عامل درون اجتماعی است، الحمدالله امروزدرجوامع اسلامی افغانستان با پیروزی امارت اسلامی درتمام نقاط این مرزبوم امنیت برقرارگیردیده ومردم دریک فضای صلح وآرامش دریک بستر مناسب امنیت اجتماعی بسرمیبرند.



# ملګریه ولې بدل شوې!

ادریس - سروري

کله مو چې په هېواد کې د کفري یرغلګرو لخوا د ظلم او وحشت تغر وغوړېد، ولس مو ډېرې ناخوالې او تاړاکونه ولیدل، خو لله الحمد د فدایانو او عامو شهیدانو د سپېڅلو وینو په برکت، د بندیانو د شکنجو، د یتیمانو د اسوېلو، د بورو میندو او کونډو په اوښکو او مجاهد ملت د نه ستړې کېدونکې مبارزې له برکته متجاوزه نړۍ له سختې شرمندونکې ماتې سره مخ شوه، داخلي مزدوران یې په میدان پرېښودل، بادارانو یې په ځغاسته ځغاسته خپلو پلیتو وطنونو ته ځان ورساوه؛ هېواد مو د ارامۍ او هوساینې ساه واخیسته، نیمګړې ارمانونه یې د لوی خدای جل جلاله د لورینې له مخې پوره شول ؟

له همدې سره سم د اسلامي امارت زعیم؛ زمونږ او ستاسو محبوب رهبر امیر المؤمنین حفظه الله د خپل شفقت له مخې عمومي عفوه اعلان کړه ؛ چې د تېرې اداري کارکوونکي عادي ژوند وکړي، خو متاسفانه د همدې مقدس صف ځینو لارویانو د خپل عارضي عزت د ټینګښت په موخه همدا منحوسې څېرې د مجاهد یا په بل نامه له ځان سره ثبت کړي دي.

افسوس؟

مجاهده وروره؛ لږ دې سر له برستنې بهر که؛ نه پوهېږم، چې څه در وشول ولې دې خپل مسیر بدل کړ ایا؛ ته هغه څوک نه یې چې هرسهار به مو ستا نوم دسورة یس؛ له تلاوت نه وروسته د لوی خدای جل جلاله په ورانديې یاداوه، د استقامت او بقا دعا به مو درته کوله، هر وخت به مو ستا ننګه کوله، تل به دې شاته ولاړ وو زما وروړکیه ؛ درته یاد به وي، چې کله به مو په دښمن د برید پلان درلود، تشکیل به دې منظم کړ، غوښتل به دې چې اول حمله کونکی تاسو شئ، خو مخلصو مجاهدینو به دې مخه ډب کړه، نه به یې غوښتل چې تاسو ته دې د دښمن لخوا څه تکلیف ورسېږي، د لوبې د نندارچي په شکل به د یو هسکې د پاسه ناست وې په وړه مخابره به دې مجاهدین رهبري کول ؟

دا به دې هم کله هېر شي ؛ چې د یو نیرېدې ملګري جنازه به دې کورته راوړه، کله چې به دې د شهید مورکۍ ولیده ضعیف بدن به یې ټول رپېده، په سترګو کې به یې اوښکې وچې وې ؛ تاسره به له سلګیو نه بغیر نور څه نه وو، هغه کور کې داخل ژړاګانې به دې هم تل یاد وي؟ او داسې به هم تکراراً تاسو محترم ورسره مخ سوي یاست، چې کله به د یو شهید د کورنۍ پوښتنې ته ورغلې میلمستون ته به یې سپین سرې مورکۍ راغله دوه کوچني معصوم یتیمان به د خپلې بوډۍ انا ترڅنګ ناست وو، په ځیر ځیر به یې تاته کتل پوهېده، چې دا زمونږ د شهید پلار جان ملګری دی، د دې ګلالیو د مړاوو څېرو په لیدو به دې ستونی ډک ډک کېده، په ګرېوان به دې څک څک اوښکې څڅیدې، جیب ته به دې لاس کړ لمنه به دې له روپیو ورډکه کړه، وروسته به دروازې چغ اواز وکړ، کتل به دې چې د مرحوم شهید بوډا پلار ستومان غونډې ستا په وړاندې راروان او د شفقت په غېږه کې به یې ټینګ نیولې او دواړه طرفونه به یې درته ښکل کړل ؛ بس ملګریه نور بیدار شه یو ځل دې له پستې چوکۍ او تېز رفتار موټره مخ شاته واړوه خپلې ماضي ته وګوره هرڅه به په کې ووینې، څه موده وړاندې مې (مجموعة الأصدقاء ) کې چې د زندانیانو ملګرو ګروپ لیده، چې ځینې دلګۍ مشران له ځان سره د تېرې اداري ظالمې څېرې د مجاهد په نوم ثبت کړې چې داسې کړنې ،هیڅ د زغم نه دي؛ زما غیور ملګرې ولې دې عقل راند دي دا خو ستا د هغه شهیدانو قاتلان دي، چې یادونه مو یې وکړه ؛ یاد ولره که چېرته ستا په همدې فاسدو کړنو هغه په زړه سوری یتیم خبر شي چې زما د پلار جان قاتل له دلګۍ مشر صیب سره باعزته ژوند لري اویا هغه دردمنه مورکۍ ستاسو مخته راشي او په سوالیه نظر درته وګوري، د دوی په وړاندې به ستا ځواب څه وي ؛ بس دی نور ویښ شه له لمنې دې دا فیغور وڅنډه، چې په راتلونکې کې خپل ضمیر ته ملامت نه یې هو؟ په دې کې ته یواځې نه یې چې فکر دې درنه یاغي شوی، په ټولنه کې نور څوک هم لرو چې ځان ته د روشن فکر لقب ورکوي او د رڼو اوبو پر مخ یې د کبر او غرور تخت پروت، نوموړي وربانديې په شاهانه انداز ناست وي؟ کله چې د اسلامي امارت متدین او حقاني علماء کرام، موجوده نظام ته له هر څه نه لومړیتوب ورکوي، د شریعت مطهره په رڼا کې مؤمن ولس ته د دوی د عقائدو د بقا په موخه بیان وکړي ؟

خوبالمقابل د همدې څېرو لخوا یې خورا تونډ ځواب وشي البته له حقیقته ډېر لرې دنیاوال یې ښه ورسره بدرګه کې نوموړی معترض په همدې بسونه ونه لري، کله ناکله د اسلامي امارت په رهبرۍ هم انتقاد وکړي، چې دا د دنیاوالو د پوچو تبلیغاتو د تاید په معنی ده، فکر کوم پایلې به یې ښې نه وي.

هوکې ملګرو؟

باید ووایم هغه وخت لرې نه دی چې د همدې ناچله روښن فکرو او بعضې دلګۍ مشرانو د کړنو په وړاندې به یو ناڅاپه د اسلامي نظام د شهیدانو د یتیمو بچیانو وړوکې لپې پورته شي ورسره ځنګ کې به د ګونتانامو، بګرام، پلچرخي زندانیان او عام مسلمانان اواز جګ کړي چې د هیواد لوړې او ژورې به یې انعکاس کړي، پوره باور لرم چې دا فریاد به یې واورېدل شي.

ملګرو؛ څه فکر کوئ ایا؛ په همدې وخت کې به ددې روښن فکرو او بعضې دلګۍ مشرانو چې قصداً د داسې کړنو مرتکب وي برخلیک د یاد چغال پشان نه وي، قضاوت به تاسو کوئ؟

# غوارم ملحدې او مسیحي اروپا ته خپل پیغام ورسوم!

ژباړه: دادمحمد ناوک

مکرون ته د فرانسوی مسلمانې لیک

الله اکبر و العزه ولرسوله وللمؤمنین

ښاغلی مکرون!

پر هغوی دې سلام وي چې پر نېغه لار روان دي، امابعد...

زه خبره شوم چې تاسې بېخي تکان خوړلی، چې صوفي پترونین، سپین پوستې، کاتولیکه عیسوۍ فرانسوۍ، چې ۷۵ کاله یې عیسویت کې تېر کړي، د مسلمانانو په منګولو کې له څلور کاله زندان وروسته اسلام ته اوښتې!

نو غوږ ونیسه!

ښاغلی مکرون!

هو، زه د مسلمانانو په غریب هېواد مالي کې زنداني وم، خو هېڅ وخت یې له ما سره بد رفتار ونه کړ، سخت په احترام راسره چلېدل، ماته به یې خواړه او څښاک راکول، سره له دې چې دوی پخپله له لوږې سره مخ و، زما شخصي حریم ته یې احترام درلود. هېڅ‌وا زه جسماً یا لفظاً نه یم ځورولې، زما دین ته یې هیڅ ګستاخي نه ده کړې، حضرت عیسی علیه السلام او حضرت مریم علیها السلام ته هم؛ لکه تاسې چې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان کې کوئ!

هغوی پر ما اسلام نه دی تحمیل کړی، خو ما یې د ورځنې ژوند په کړو وړو، سادګي، صداقت او رحمت کې لیده، داسې کسان چې په اوبو ځان پاکوي، هره ورځ الله جل جلاله ته پنځه وخته لمونځ کوي، د رمضان میاشت کې روژه نیسي، واجبات ترسره کوي او سره له دې چې لوږه ا و فقر یې ملګري دي او د ژوند لومړنۍ ارتیاوې یې هم پوره نه دي نېک اخلاق خپروي او پخپله پاکه اروا سره پر ستونزو برلاسي کېږي.

ښاغلی مکرون!

په مالي کې مسلمانان غریبان دي، هو، د هغوی هېواد غریب دی، نه د ایفل برج لري، نه د لوور موزه، نه د ورسای ماڼۍ، نه په فرانسوي عطرو خبر دي او نه زمونږ په ماډلونو، خو هغوی تر ټولو پاک بدنونه، تر ټولو پاک زړونه او ځلېدونکې ارواوې لري!

هو، هغوی ځلېدونکې هوټلونه او پر مختللي ماشینونه نه لري، په اسمانڅکو ودانیو کې نه اوسي او د ګډا په سالونونو کې ځان نه ښیي، خو د هغوی هیلې تر وریځو لوړې دي، ایمانونه یې تر غرونو ټینګ او ارواوې یې د کمال هڅې کوي.

ښاغلی مکرون!

په ژوند دې د قرآن عظیم الشان تلاوت اورېدلی؟ هغوی شپه ورځ په لمانځه کې او هر وخت قرآن لولي، څومره خوند کوي او څنګه زړه ته ننوځي قرآن!!!

حتی سره له دې چې نه پوهېږې چې څه وایي خو بدن دې لړزوي، لوستل دې یې د زړه بېخ ته رسېږي، کله چې غوږ ورته نیسې لکه هغوی چې یې حفظوي... بیا خپل لاشعور ته غوږ نیسې چې دا خو د انسان خبرې نه دي، دا اسماني خبرې دي چې ځمکې ته را نازلې شوې دي، زړه دې سخت غواړي پوی شي چې د دې خبرو چې شپه ورځ لوستل کېږي معنی څه ده، چې تر دې خبرو جالبې پیدا کېدلی نه شي!؟

ښاغلی مکرون!

کله دې په ژوند کې یوه رب ته سجده کړې، تندی دې ځمکه لمس کړی، مهربان او ښښونکي رب ته دې د خپل ژوند د اندېښنو او هیلو زارۍ کړې او د نعمتونو په خاطر دې یې شکر پر ځای کړی؟؟؟

کله دې الله جل جلاله ځان ته او ځان الله جل جلاله ته نږدې احساس کړی، تر دې چې الله جل جلاله له تا سره وي او ته له الله جل جلاله سره؟؟ دا هماغه څه دي چې غریب مسلمانان یې ترسره کوي، نو وګوره د هغوی شتمني او خپل فقر ته!

ښاغلی مکرون!

د هغوی ښځې لکه د ډېرو سکاره تکې توري، خو زړونه یې لکه شیدې تک سپین!

هغوی ساده او پراخ کالي اغوندي، خو د خپلو نارینه‌و له نظره یې دوی له ټولو ښکلې او ګرانې دي، هغوی له پردیو سړیو سره اختلاط نه کوي او یوه یې هم د خپل مېړه په غیاب کې پردی نارینه خپل کورته نه راولي، خپله پاکي په ګنا، نیمګړتیا یا نا سم فکر نه ککړوي!

هغوی شراب نه څښي، قمار نه کوي، زنا نه کوي، پر همجنسي بازي نه پوهېږي او له سپي سره د واده په پلمه خپل مېړه نه پرېږدي!!!

ښاغلی مکرون!

مسلمانان پر ټولو پیغمبرانو حتی حضرت عیسی علیه السلام او د مریم علیها السلام پر پاکۍ تر موږ هم ډېر ایمان لري، ما له مریم علیها السلام سره د ډېرې مینې او درنښت له امله پر ځان همدا نوم کېښود، مسلمانان ورته دومره احترام لري لکه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لور بي بي فاطمې رضی الله عنها او مېرمنې حضرت خدیجې رضی الله عنها ته چې یې لري.

ښاغلی مکرون!

کېدای شي وپوښتې، چې هغوی تر موږ څنګه حضرت عیسی علیه السلام ته درنښت لري؟ زه جواب درکوم، هو؛ پر هغوی تر موږ حضرت عیسی علیه السلام ډېر ګران دی، ځکه زمونږ هېواد د عامو وګړو وینې د عیسی علیه السلام په نوم توی کړې، هېواد مو یې لوټې لوټې کړ، دوی مو پر غلامۍ ونیول، شتمنۍ یې لوټ شوې، حال او راتلونکی یې ورک شول، په وحشیانه استعمار او بې انصافه ښوونه او روزنه موږ د مسلمانانو هېوادونه ولوټل، غیر پراختیایي پروژې مو پرې تحمیل کړې، د هغوی تر منځ مو فتنه واچوله، بیا مو خپلې وسلې پرې خرڅې کړې چې یو بل ووژني او بیا مو پرې د تروریزم ټاپه ووهله، خو په واقعیت کې موږ تروریستان یوو، هغوی نه!

خو هغوی له ما او نورو زندانیانو سره د حضرت عیسی علیه السلام اخلاق کول، چې موږ په مقدس کتاب او کلیسا کې زده کړي او لوستي و خو یو ذره عمل مو پرې نه و کړی!

ښاغلی مکرون!

په پای کې ... ما نه غوښتل چې خپل اسلام په ګران هېواد مالي کې اعلام کړم، ځکه بیا به ویل کېدل چې د توري په زور اسلام ته اوښتې یم، نو نیت مې وکړ چې خپلې خاورې فرانسې ته راشم او په خپلواک ډول اسلام اعلام کړم، چې په وسیله یې میلیونونو فرانسویانو او ملحدې او مسیحی اروپا ته خپل پیغام ورسوم!

ښاغلی مکرون!

دا تاسې او د لوېدیځ نور مشران یاست چې شپه ورځ د اسلام پر ضد توطیې جوړوئ، هېوادونو ته یې د ننو تو لپاره توجیهات لټوئ او د تروریزم په نوم چې ستاسې رسنیو سره جوړ کړی، غواړئ له نیله تر فراته د اسلام د بیا راتګ فکر له منځه یوسئ، خو زه تاسې ته وایم، اسلام پاکي او عظمت رامنځته کړی، زما زړه، ذهن او احساسات پرې ډک شوي، زه نوره فرانسه نه وینم، د مالي غریب، ځېلي او متواضع هېواد په پرتله دا ښایسته له زرق او برق ډکه فرانسه نوره نه وینم، نیت مې کړی بېرته خپل ساده او فقیر مالي ته لاړه شم!

خو وروسته له هغه به ځم چې په فرانسه او اروپا کې خپل عزیزان او د کورنۍ غړي دعوت کړم، هیله لرم هغوی ډېر ژر د اروپا له وحشي او زیانمن سقوط څخه خلاص کړم، غوارم هغوی ته د خدای پالنې هغه خوند چې ما څکلی ور وڅکم؛ زه هغوی ته ډاډ ورکوم چې د ټولو ادیانو په منځ کې د خلاصون ژمنه راکړل شوې!

زه همدارنګه تاسې اسلام ته را بولم او تاسې دې پیغام ته را بولم چې د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام پیغام دی، له حضرت ادم علیه السلام تر حضرت نوح او حضرت ابراهیم علیهما السلام، تر حضرت موسی او حضرت عیسی علیهما السلام او تر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې، هیله لرم چې په نږدې راتلونکې کې په دې تیاره ګوټ کې د اسلام لمر وځلېږي او بیا خوشالي پیل کړي او دا الله جل جلاله ته هیڅ سخته نه ده، پر الله جل جلاله توکل کوم او هغه ته ور ګرځېدونکې یم!

سلام دې وي پر هغوی چې پر نېغه لار روان دي!

## سمسورهیواد

**شاه‌محمود درویش**

د ښه خدمت عـــهد اوپیمان کــړئ
خپل دا ویجاړ هـــیواد ودان کړئ
شاړې میرې یې هــم په خــپلو متو
زرغون زرغون او گلســـتان کړئ
دلته جگړې ډیر میندې بورې کـړلې
له مجبورۍ یې څه مــزدوزې کړلې
دچا یې ځوې د چا خاوند شهید کــړ
څه د جــگړې ثمر معزورې کړلې
تاسو له هغو خـــبر ځـــان کړئ
هـــیواد سمسور ودان ودان کړئ
دلته ولس ډیر بدمـــــرغۍ زغملې
ډیرې نادودې یې پـــردۍ زغملې
اوس هوساینې ته شیبې شمارې نور
دلته یې ډیرې ناکـــــردۍ زغملې
نن یې پوره هریو آرمـــــان کړئ
هـــیواد سمسور ودان ودان کړئ
نورنودعلم اوپوهې لاره غوره کړئ
دبیکاریو په ځای کار غـــوره کړئ
د نوښتونو نن هـــمدا بهـــیر کې
د پرمختگ لپاره زیار غـــوره کړئ
ځـــان مواتل د هـــرمیدان کړئ
هـــیواد سمسور ودان ودان کړئ
پردي مـــدام په بل احسان اړوي
تل ځانته گټې بل ته زیـــان اړوي
د مرستې لاس یې مطلبي وي مـدام
چې لاس یې برشي تل تـاوان اړوي
ځان مو خوندي دبل له زیـان کړئ
هـــیواد سمسور ودان ودان کړئ
الله(ج) درکـــړي ښــــه کانـونه
ډک له اوبـــو څخـــه سیندونـــه
مه کوئ بل چـــاته ســـوالونه
جوړ کړئ په هرځـــای کې بندونه
په دغه کار پردي حـــیران کړئ
هـــیواد سمسور ودان ودان کړئ
لرئ لارښـــــود قـــرآن پاک
په خـــپل مالت کې په خـــپل واک
ښــه بشري هـــم لـــرئ ځواک
نور له چـــا مه لـــرئ هیڅ باک
تل مو توکل په پاک سبحـــان کړئ
هـــیواد سمسور ودان ودان کړئ
درویشه جـــوړ ترې یو قوت دی
چاچې کلک کړی خپل وحـدت دی
پـــه اخـــوت او وروروليٰ کې
رښتیا چې ژونـد په ډیرعـــزت دی
تل په الله(ج) کلک مـو ایمـان کړئ
هـــیواد سمسور ودان ودان کړئ

# په اسلامي تاریخ کې د حکومتونو د سقوط عوامل

**ژباړه: اکرام واحدي**



که مخکېنۍ تاریخ ته لږ سر ورښکاره کړئ، وبه گورئ چې امویان څنگه په زوال محکوم شول؟ د اندلس تاریخ وگورئ چې مسلمانانو سره څه وشول؟ دومره ستر تاریخ چې په لوستلو یې ماشوم سپین ږیری کېږي خو هغه طلایي پېر هم په سقوط ختم شو!

د عباسیانو سقوط وگورئ او دا چې مغولیانو ورسره څه وکړل؟

دا سترې ستري امپراطورۍ د اقتصادي ضعف له امله نه دي سقوط شوي او نه هغوی په نظامي لحاظ کمزوري وو او یا یې دښمنان ترې قوي وو.

چې ښه عمیق بحث ته لاړ شو نو پوهېږو چې خبره بل ځای کې وه او هغه په دین او دیني اموراتو ډیل او معامله او د واک په وروستیو کې د فسق او فجور بې شانه خپرېدا او د دنیوي ژوند، مال، متاع او خواهشاتو پیروي کول ؤ.

په دې باید پوه شو چې یو اسلامي دولت یواځې په ښه اقتصاد درلودلو نه قایمېږي او نه د ډېر شمېر لښکر درلودل شرط دی بلکې دا په دې پورې اړه لري چې:

ـ یو حکومت څومره د الله جل جلاله د حدودو حافظ او نافذونکی وي.
ـ عمل یې د اسلامي ارشاداتو سره سم وي.
ـ خبره او عمل یې یوشان وي.
ـ دین کې افراط او تفریط ونه کړي.
ـ د رعیت خادمان وي.
ـ په رعیت ظلم ونه کړي.
ـ کاراهل ته وسپاري.
ـ د رعیت په حق کې د الله جل جلاله نه وېرېدونکی وي.
ـ رعیت ته حساب ورکوونکی او ځوابگو وي.
ـ د مسلمان د عزت او حیثیت پایمالونکی نه وي او....

تاسو صدر اسلام ته نظر واچوئ، بیا فرق نور هم واضح کېږي. ابوبکرالصدیق رضي الله تعالی عنه اسلامي خلافت قوي اقتصاد نه و پیل کړی بلکې د ښې حکومتولۍ، اهل ته د کار سپارلو، تعهد، ژمنتیا، اخلاص او ایثار په برکت یې د یو قوي دولت بنسټ کېښود.

# څمکه برکتي ده

**حامد افغان**

رسول الله ﷺ فرمایي: څوک چې کور خرڅ کړي او هغه پیسې یې د دې کور په څېر بل کور کې ونه لگوي، الله به هغه پیسې ورته برکتي نه کړي. عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ بَاعَ دَارًا وَلَمْ يَجْعَلْ ثَمَنَهَا فِي مِثْلِهَا لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهَا. ابن ماجة (۲٤۸۲) واحمد.

وتلی محدث امام ابو جعفر الطحاوي رحمه الله وایي: الله جل جلاله څمکه ستایلې او برکتي گڼلې ده.

نو څوک چې کور او څمکه خرڅوي گواکې د الله برکتي شی خرڅوي، سزا یې دا شوه چې د څمکې په بدل کې کوم شی اخلي هغه به بې برکته وي. «مشكل الآثار للطحاوي»(۲۰٦/۹)

ملا علي القاري رحمه الله المرقاة کې لیکي: څمکې او کورونه خرڅول او په هغو پیسو منقوله سامان اخیستل نامستحب کار دی، ځکه د څمکو گټه ډېره، ستونزې او تاوانونه یې کم وي او د منقوله سامان پر خلاف غله او غدوی یې پټولی او تروړلی نه شي. نو ښه خبره دا ده چې څمکې او کورونه باید خرڅ نه کړل شي او که څوک یې خرڅ کړي په هغو پیسو دې بل کور یا څمکه واخلي. مرقاة المفاتیح شرح مشكاة المصابیح (۱۹۸۳/۵). لکه حدیث کې ښکاره راغلي دي، چې د کور یا څمکې پیسې د هغه په څېر څمکه کې بندې نه کړي.(وَلَمْ يَجْعَلْ ثَمَنَهَا فِي مِثْلِهَا). د شارحینو له خبرو معلومېږي چې دا حدیث لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مشوره داسې ده، اجباري او لازمي خبره نه ده. او بل که څوک ځانگړې ضرورتونه لري او د هغه له مخې د جایداد خرڅلاو ته مجبور شي؛ طبعا هغه مستثنا دي.

# په ماشومانو کې معافیت څنگه زیات کړو؟

**ژباړه: عابدالله (سمسور)**

کله چې کوم ماشوم ناروغ شي نو مطلب دا دی چې د وجود معافیت یې د نارغیو او میکروبونو پر وړاندې کمزوری شوی. د مدافع قوت لا غښتلي کولو لپاره قوي خوراک، مناسب خوب او د برابر ورزش ترڅنگ زیاتې پاملرنې ته هم اړتیا وي.

ناروغي د هر ماشوم د ژوند یوه عامه برخه ده. ځینو خلکو ته ناروغي ناڅاپه راځي، چې په لنډ وخت کې خپله له منځه ځي، ځکه د هغه مدافعتي نظام ښه وي، خو دا چې د ماشومانو دفاعي سیستم کمزوري وي؛ نو دوی د بالغو کسانو په نسبت له ناروغیو زیات کړیږي او وجود یې ډیر حساس یا نازک وي. خو تر څو چې ماشوم ناروغ نه شي، طبیعي مقاومت یې نه شي زیاتېدلی. همدا انتانونه دي، چې د ماشوم طبیعي مقاومت ته وده ورکوي.

د اساسي واکسینونو سربیره ځینې نور لاملونه هم شته چې له زیږون څخه تر ځوانۍ پورې غوره روغتیا تضمینوی:

۱ــ د معمول مطابق معاینې:

د ماشومانو لپاره د دایمي قاعدې په توگه باید په یاد ولرو چې د اړتیا په صورت کې د طبي متخصصینو له خوا د هغوی معاینه کولو ته دوام ورکړو.

که دا ممکنه نه وي، ښه خواړه ممکن د قناعت وړ بدیل وي.

همدارنگه ماشوم ته تازه سبزیجات، میوې او پروټین لرونکي خواړه ورکړئ.

۲ــ خپل کور له سگرټ څکولو څخه پاک وساتئ؛

د سگرټو څکول پرېښودل د مور او پلار او د ماشوم روغتیا لپاره ډېر غوره دي. سگرټ څکول ستاسو د ماشوم د غوږ او ستوني د انتاناتو خطر زیاتوي.

همدارنگه د سالنډۍ او نورو لاملونو له امله د مړینې خطر زیاتوي.

۳ــ خپل ماشوم وهڅوئ چې کافي خوب وکړي:

ماشومان په ورځ کې تر ۱۸ ساعتونو پورې ارام اوسېدو او خوب ته اړتیا لري او لویان د ورځې په اوږدو کې د خوب په شمول له ۱۰ څخه تر ۱۲ ساعتونو ارام ته اړتیا لري.

نو بهتره ده چې تاسې ۵ ـــ ٦ ساعتونه او ماشوم مو ٦ تر ۸ ساعتونو پورې خوب وکړي.

۴ـــ په کافي اندازه ورزش او تمرین:

ماشومان هره ورځ لږ تر لږه یو ساعت فزیکي فعالیت ته اړتیا لري. دا په راتلونکې کې د وزن کنټرول او د زړه روغتیا لپاره کلیدي ده. هڅه وکړئ خپل ماشوم ته اجازه مه ورکوئ چې ډیر وخت د کمپیوټر یا تلویزیون مخې ته تیر کړي، هغوی باید باهر ووځي، په ازاده هوا کې منډه ووهي او یا د منظم ورزش لپاره ټاکلو ځایونو ته ورشي.

۵ــ د خپل ماشوم وزن وڅارئ:

د ماشومتوب چاغېدل د شکرې، د زړه ناروغۍ، سرطان، د مفصلونو او نورو ډیرو مرضونو خطر رامنځته کوي. ماشومان کولی شي د ښه ورزش او غوره غذایي رژیم پاللو سره صحي وزن وساتي؛ کمښت او زیاتوالي ته یې پرې نه ږدي.

## تامین آب نوشیدنی برای هزاران خانواده ...

دالر برای ساخت این شش شبکه ی آبرسانی هزینه کرده است.مفتی سرهنگ می گوید که با ساخت این شبکه ها، دوهزارو پنج صد خانواده در روستای پشت رود، به آب نوشیدنی پاک دسترسی پیدا کردند.روستا نشینان از ساخت این شبکه های آبرسانی خرسند اند و می گویند که سالها به دلیل استفاده از آب های سرباز و ناپاک، دچاربیماری هایی می شدند.

## د هیواد خپلواکی په سرښندنو ترلاسه ...

وژغورله.اسلامي نظام حاکم او د هیواد جغرافیاوي حدود کنټرول شوي،داډمن امنیت تأمین او د بیارغونې چارې پیل شوې،په ټولګټو او ملي پروژو کار په درز روان دی،زموږ ګاونډیان دې هم د کورنیو او بهرنیو دښمنانو پوچې او بې ځایه سندرې نه بدرګه کوي او پردي دول ته دې بې وخته لاسونه، نه غورځوي. موږ په سر کې ذکر کړل چې افغانستان یو آزاد او مستقل هیواد دی،خپل قوانین او کلتور لري،هېڅوک دا حق نه لري چې زموږ په کورنیو چارو کې مداخله او لاسوهنه وکړي،زموږ په بدبختۍ کې دې خپله نېکبختي نه ګوري زموږ بهرنۍ پالیسي د نورو په چارو کې د نه لاسوهنې په بنیاد ولاړه ده او له نورو هېوادونو څخه هم ورته غوښتنه لرو او د تېرو څلورو لسیزو ترخې او ناکامې تجربې دې بیا نه تکرار وي.

## مسؤلان محلی سرپل خواستار تطبیق پروژه‌های ...

پیشنهاد ها و خواست مردمی را مطرح کردند. در خبرنامه آمده است: مظهری از بزرگان امارت اسلامی خواست که در حصه تطبیق پروژه‌های انکشافی در مناطق دور دست سرپل، استخراج معادن، اعمار بندهای آب، تعلیم و تربیه، رسیده‌گی به وضعیت مجاهدان و ایجاد زمینه اشتغال برای باشنده‌گان آن ولایت توجه جدی کنند. خبرنامه می‌افزاید: مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست الوزرا زحمات، مجاهدت‌ها و فداکاری‌های مردم سرپل در مبارزه علیه اشغالگران را ستوده یاد آور شد ' مسولان محلی در ارائه خدمت، تامین امنیت مردم و رفتار نیک با آنان مکلف هستند و نباید در این قسمت کوتاهی شود. مولوی عبدالسلام حنفی گفت: برطرف کردن مشکلات و ایجاد زمینه رفاه برای مردم از تعهدات امارت اسلامی است و آنان با در نظر داشت امکانات دست داشته در امر خدمت به مردم تلاش خواهند کرد.

## غزني کې د باباجي تاریخي جومات ...

کال کې د یاد جومات د اساسي رغوني لپاره د یاد بنسټ له لوري کړني ترسره شي.په ورته وخت کې د غزني د اطلاعاتو او کلتور رئیس ملاحمیدالله نثار د آغاخان فرهنګي بنسټ له یادي کړنې هرکلی کوي او وایي چې باباجي تاریخي جومات، اوږده تاریخي مخینه لري او د یاد جومات اساسي رغول مهم ګڼي.په غزني کې د فرهنګپالو په وینا باباجي تاریخي جومات په دغه ولایت کې د مسلمانانو لومړنی جومات یادېږي او داسې ویل کېږي چې دغه جومات د صحابه کرامو په وخت کې جوړ شوی دی.

## میدان وردګو کې ۲۰ ژورې څاه ګانې ...

د یادې پروژې د پلي کولو په برخه کې د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ.ورته مهال، د نوموړې ټولنې استازي د میدان ښار سیندیزې حوزې رئیس د همکارۍ له څرګندولو خوښی وښووده او د لا زیاتو همکاریو ډاډ یې ورکړ.د یادونې وړ ده، چې د ترکیې هېواد د اوبو د څاګانو نړیواله ټولنه د اوبو او انرژۍ وزارت سره د یوې هوکړې پر بنسټ د میدان وردګو ولایت په چک، نرخ او سید آباد ولسوالیو کې ۲۰ ژورې څاه ګانې کیندي چې پرې ۳ میلیونه او ۴۲۰ زره افغانۍ لګښت راځي.

## کمک برنامه جهانی غذا برای ۱۶ میلیون ...

غذا نوشته شده است که ۵۰ درصد افرادی که کمک دریافت کرده‌اند، زنان و دختران بودند.منبع می‌افزایدکه این کمک‌ها با همکاری کشورهای چین، فنلند، روسیه، سویدن و بانک انکشاف اسلامی فراهم شده است.این در حالی است که شماری از نهادهای مربوط به سازمان ملل متحد، از کمبود بودجه برای کمک با نیازمندان در افغانستان، ابراز نگرانی کرده و از کشورهای جهان خواسته‌اند که در زمینه تامین بودجه مورد نیاز این نهادها همکاری کنند.

## کابل کې د بېلابېلو ادارو لپاره نوي جوازونه ...

معین؛ سید عصمت الله عاصم او د د ښاري خدمتونو او چاپېریال ساتنې معین؛ مولوي محمد خالد سجستاني او همدا راز د مالیې وزارت د دولتي شرکت د مسؤلینو په حضور کې غونډه وشوه.په دې کتنه کې د کابل ښار د بېلابېلو سوداګریزو اتحادیو فعالانو ته د نوي سوداګریز جواز د وېش په اړه خبرې وشوې.په دې غونډه کې د ښاروالۍ د معلوماتي ټکنالوجۍ او عوایدو ریاستونو لخوا ترتیب شوي د سوداګرۍ د جواز نوی پلان تصویب شو.د کابل ښاروالۍ چارواکي وایي؛ د څه باندې پنځوس زره نویو سوداګریزو جوازونو د وېش لپاره یې چمتووالی نیولی او دا چې څنګه به د کابل ښاروالۍ په عوایدو او د کابل ښار د سوداګرو د اتحادیو په ډیټابیس کې ثبت او راجستر شي؛ نو دا به معلومه شي؛ چې په کابل ښار کې څومره دوکانونه فعال او شتون لري.

## ۶ ولایتونو کې د ګوزڼ ضد ...

له دې چې په افغانستان کې په بیا بیا د پولیو ضد واکسین کمپاینونه ترسره کېږي، خو د پولیو ویرس بیا هم پکې شته او همدا روان کال یې پنځه مثبتې پېښې ثبتې شوې.د یونسېف چارواکي وایي د ګوزڼ ضد واکسین کولو دا څلور ورځنی کمپاین په بلخ، جوزجان، سمنګان، سرپل، فاریاب او ارزګان ولایتونو کې ترسره کېږي.په پام کې ده چې په دغه کمپاین کې څه باندې یو نیم میلیون ماشومان چې عمرونه یې له پنځو کلونو کم دي، واکسین کړای شي.اوس مهال افغانستان او پاکستان د نړۍ یوازني دوه هېوادونه دي چې د پولیو ویرس په کې لا شته.د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د ملاتړ صندوق یونیسف وایي په افغانستان کې اوس دغه ویرس په محدودې سیمه کې دی او که کورنۍ خپل ټول ماشومان چې عمرونه یې له پنځو کلونو کم دي واکسین کړي، ښایي د یو کال په موده کې افغانستان هم له پولیو ویروسه پاک شي.د روغتیا پوهانو وینا ده چې پولیو درملنه نه لري خو پرې د اخته کېدو د مخنیوي یوازینۍ لار یې د واکسین کول دي.نو چارواکي د همدې لپاره د ټولنې له مشرانو او په ځانګړي ډول له میندو او پلرونو غواړي چې خپل ماشومان واکسین کړي او په دې توګه یې د ټول عمر لپاره له معلولیت او احتمالي مړینې وژغوي.

## مساجد، محور بزرگ وحدت مسلمانان ...

والی کابل در مراسم افتتاحیه مسجد زینبیه در شهرک امید گفت:با برپایی مجدد امارت اسلامی توجه ویژه ای به ارزش ها و مراسم اسلامی و ملی در کشور شده است که نمونه خوبی از برگزاری مراسم مذهبی اهل تشیع در روز های عاشورا در فضایی امن و مطمئن در کشور است. شیخ محمد قاسم خالد ساخت مساجد را یک عبادت دانست و تاکید کرد که به جای ظاهر مساجد باید به جنبه های معنوی آن بیشتر توجه شود. به گفته شیخ محمد قاسم خالد؛ مساجد، محور بزرگ وحدت مسلمانان هستند و باید سعی کنیم که ادب ان را رعایت کنیم.

# هئیت تنظیم آب روی چگونگی تطبیق پروژه انتقال آب پنجشیر به کابل بحث کرد

هئیت تنظیم آب،روی چگونگی تطبیق پروژه انتقال آب پنجشیر به کابل بحث و بر تسریع روند کاری این پروژه تاکید کردند. این هیئت که از سوی کابینه امارت اسلامی توظیف شده و از سوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الورزا رهبری میشود که در ترکیب آن ' سرپرست وزیران وزارت‌های مالیه، انرژی و آب، شهر سازی و مسکن، معینان وزارت‌های زراعت، آبیاری و مالداری، احیا و انکشاف دهات، اقتصاد، معاون اداره ملی حفاظت محیط زیست، رئیس شرکت آبرسانی و فاضلاب شهری و تیم تخنیکی و مسلکی ادارات یادشده، حضور دارند. هیئت موظف در رابطه به تطبیق پروژه انتقال آب پنجشیر به شهر کابل (میعاد تطبیق، سنجش مصارف، ظرفیت آبی این پروژه و رفع مشکلات آب آشامیدنی شهروندان شهر کابل از این طریق) گفتگو شد و بر تسریع روند کاری این پروژه تاکید شد.همچنان هیئت موظف ' روی تنظیم امور آب در کشور، دسترسی مردم به آب آشامیدنی پاک، مشکلات ناشی از تداخل وظیفوی میان وزارت‌های زراعت، آبیاری و مالداری، انرژی و آب، احیا و انکشاف دهات، شرکت آبرسانی و فاضلاب شهری نیز صحبت شد.

# معاون لوی درستیز قوای مسلح از سرحدات ولایت های پکتیا و خوست دیدار کرد

دیدار معاون لوی درستیز قوای مسلح از سرحدات پکتیا و خوست

حاجی مالی خان «صدیق» معاون اول لوی درستیز قوای مسلح طی سفری به ولایت های پکتیا و خوست از لوای دوم سرحدی قول اردوی ۲۰۳ منصوری و مناطق سرحدی آن ولایات دیدن کرد. دفتر مطبوعاتی وزارت دفاع ملی دیروز با نشر این خبر گفته است: معاون نخست لوی درستیز، در این سفر ضمن دیدار از پوسته های تازه ایجاد شده در ولسوالی ځاځي میدان از تلاش های شبانه روزی مسؤلان و منسوبین لوای دوم سرحدی قدردانی کرده متعهد به رسیدگی به مشکلات و پیشنهادات آنان شد.

# ۴۵ ټانکره بې کیفیته تېل ایران ته مسترد شول

د سټنډرډ ملي اداري ایران هېواد ته د ۴۵ ټانکره بې کیفیته تېلو د بېرته مسترد کولو خبر ورکړی دی.یادې ادارې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د فراه په ۷۸میل بندر کې ۴۵ ټانکره بې کیفیته تېل (ډیزل او پټرول) چې د دې ادارې له سټنډرډونو سره یې مطابقت نه درلود بېرته ایران ته مسترد کړي دي.خبرپاڼه زیاتوي، چې په دې وروستیو کې سټنډرډ ملي ادارې په خورا جدیت د بې کیفیته تېلو د واردولو د مخنیوي لپاره عملي ګامونه پورته کړي. یادې ادارې له ټولو سوداګرو څخه غوښتنه کړې، چې هېواد ته با کیفیته توکي وارد کړي، کنه نو له ورته قانوني چلند سره به مخ شي.د یادونې وړ ده، چې یادې ادارې پرون هم د یاد ولایت د شیخ ابونصر فراهي بندر له لارې ۱۶ ټانکره بې کیفیته تېل بېرته ایران ته مسترد کړي وو.

# رسیدگی به ده ها قضیه ی کودکان ازسوی ریاست کاروامور اجتماعی بغلان

مسوولان در ریاست کارو اموراجتماعی بغلان می گویند که به ده ها قضیه ی کودکان رسیدگی کرده اند. به اساس آمارارائه شده، دریک ماه پسین، بیش ازهفتاد قضیه ی کودکان دراین اداره ثبت شده است که آنان به پنجاه قضیه رسیدگی کرده اند. محمد نصیر متوکل آمر امور اجتماعی ریاست کارو اموراجتماعی بغلان، به آژانس باخترگفت" شبکه محافظت اطفال در همکاری و هماهنگی نهاد های که در بخش اطفال کار می کند، در یک ماه گذشته بیشتر از ۷۰ قضیه مرتبط به اطفال را ثبت و به بالاتر از ۵۰ قضیه آن رسیدگی نموده و متباقی قضایا تحت کار می باشد. " وی اطفال را آینده سازان کشور واما آسیب پذیر ترین قشر جامعه خوانده افزود: بیشتر قضایا که به آن رسیدگی صورت گرفته شامل اطفال متخلف، رد مرزی، بی سرپرست، شاقه کار و معلول و معیوب می باشند که از مجرای قانونی در همکاری نهاد های دولتی و غیر دولتی رسیدگی شده است.

## انتقال ۶ هزار تُن اموال تجاری ازبیکستان از راه ...

امور خارجه در توییترش نوشته است که ارگاشیف این موضوع را در دیدار با شیرمحمد عباس ستانکزی، معین سیاسی این وزارت بیان کرده است.ارگاشیف در عین حال گفته است که وزارت امور خارجه ازبیکستان، به‌هدف گسترش تجارت میان دو کشور، کار اعمار یک مکان مورد نیاز را آغاز کرده است.در همین حال ستانکزی گفته که نیاز است تا یک میکانیزم همه‌جانبه میان افغانستان، ازبیکستان و پاکستان ایجاد شود تا در زمینهٔ تجارت و ترانزیت میان سه کشور سهولت به‌وجود آید.گفتنی است که ارگاشیف در ترکیب یک هیئت ۳۰ نفری ازبیکستانی، به کابل سفر کرده است.این هیئت تاکنون با مسئولان وزارت‌های مختلف در افغانستان دیدار و در مورد روابط تجاری میان دو کشور گفت‌وگو کرده است.

## رخام ډبرو په ملي او نړیواله کچه ښه ...

تر څنګ یې تازه د رخام ډبرې څخه په ساختماني کارونو کې د ځمکې د فرش جوړونې یا چپس کارۍ ماشینري هم فعاله کړې ده، چې په ملي او نړۍواله کچه یې ښه بازار موندلی دی. د هلمند ولایت د حجارۍ او نجارۍ دولتي شرکت ۱۳۴۱ هجري لمریز کال کې په فعالیت پیل کړی دی، چې په دوو برخو کې فرنېچر او د رخام له ډبرو جوړ ډبرین تولیدات لري. دې دولتي شرکت کې د هلمند رخام ډبره تر پروسس وروسته جوړ او د پلور لپاره ایښودل کېږي. د دې شرکت مسوولین وایي، د تېرو کلونو په پرتله یې فعالیتونه ګړندي شوي دي.

## ننګرهار کې ۷۰ سلنه کارګرو ماشومانو ته ...

د دیني، عصري او حرفوي زده‌کړو زمینه برابره شوې ده.خو د ننګرهار ولایت اوسېدونکي وایي، لا هم په ځینو سیمو کې داسې ماشومان لیدل کېږي چې په ډېر بد وضعیت کې په درنو کارونو بوخت دي.د ننګرهار د کار او ټولنیزو چارو رییس مولوي فریدالله ثاقب پژواک خبري اژانس ته وویل، په دغه ولایت کې د کارګرو ماشومانو شمېر کم شوی او نږدې ۷۰ سلنه دغه ماشومان په زده‌کړو بوخت شوي دي.هغه زیاته کړه: «له تحول وروسته چې موږ ته د ماشوم ساتنې نړۍوالې ادارې یا Save the Children له خوا اټکلیز معلومات راکړل شوي وو، په ننګرهار کې د کارګرو ماشومانو چې په درنو کارونو بوخت وو، شمېر شاوخوا ۳۰۰۰ کسان و، اوس موږ له دوه زره ډېرو ته د زده‌کړو زمینه برابره کړې او یوه کمه برخه پاتې دي.»دی زیاتوي، دغو ماشومانو ته د دیني، عصري او حرفوي زده‌کړو زمینه برابره شوې او کورنیو ته یې کوچني کاروبارونه جوړ شوي څو خپل ماشومان بېرته درنو کارونو ته اړ نه کړي. د راپورونو له مخې، په افغانستان کې تر ۲۰۲۲ کال پورې د کارګرو ماشومانو شمېر یو میلیون او ۶۰ زره کسانو ته رسېده خو په دې برخه کې نور تازه ارقام تر اوسه نه دي خپاره شوي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Tuesday 29 August 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 252

# حکومت د ورزشکارانو پیاوړتیا ته ژمن دی

د المپیک ملي کمېټې او سپورټ لوی رییس مولوي احمدالله وثیق د ورزشي فدراسیونونو له رییسانو او استازو سره په غونډه کې فدراسیونونه د ورزش اساس یاد کړل او تقویې ته یې ژمنتیا ښودلې. ښاغلي وثیق ویلي؛ چې د ورزش ادارې ته په راتګ سره به یې لومړنی کار د فدراسیونونو ملاتړ او د ستونزو حل وي، دغه راز یې زیاته کړې، چاته به اجازه ورنکړي چې د فدراسیونونو په چارو کې لاسوهنه وکړي. نوموړي زیاته کړې، چې د نړیوالو معیارونو او اصولو مطابق به د ورزش مسیر او



پیاوړتیا ته کار وکړي. ښاغلي وثیق په دې غونډه کې ډاډ ورکړی چې اسلامي امارت د ورزش پوره ملاتړ کوي. نوموړي د المپیک نړیوالي کمېټې او نورو ادارو څخه غوښتي، چې د افغان ورزشکارانو ستونزې په نظر کې ونیسي او د حل په موخه یې لازم اقدام وکړي. مولوي احمد الله وثیق شاوخوا دوې اوونۍ وړاندې د اسلامي امارت رییس الوزرا د حکم په اساس د المپیک ملي کمېټې او سپورټ لوی ریاست د نوي رییس په توګه په دنده ګمارل شوی دی.

# رویدادهای خارجی

## د جاپان له لومړي وزیر څخه د جاپانیانو ملاتړ کم شوی



د جاپان مېنیچي شیمبون ورځپاڼې د دغه هېواد له لومړي وزیر فومیو کیشیدا څخه د جاپانیانو د ملاتړ په اړه یوه نظر پوښتنه ترسره کړې ده. د نظر پوښتنې پایله ښودلې، چې له لومړي وزیر فومیو کیشیدا د جاپانیانو د ملاتړ کچه ۲٦ سلنې ته راټیټه شوې او دا کچه یې په تېرو دوو میاشتو کې تر ۳۰ سلنې کمه شوې ده او په وروستیو درېیو میاشتو کې یې د خپلو هېوادوالو د ملاتړ په کچه کې ۹۱ سلنه ټیټوالی راغلی دی. د نظر پوښتنې پایلې دا هم ښودلې، چې د فومیو کیشیدا په مشرۍ د جاپان له واکمن ازاد او ډیموکراتیک ګوند څخه د جاپانیانو د ملاتړ کچه هم ټیټه او ۲۵ ښودل شوې او له دې وړاندې یې د ملاتړ کچه له ۳۰ څخه تر ۴۰ سلنې پورې ساتل شوې وه.

## راتلونکې میاشت د اوکراین لپاره د برلاسۍ وړاندوینه شوې



د اوکراین ولسمشر ویلادیمیر زلینسکي را روانه سپټمبر میاشت د خپل هېواد لپاره د برلاسۍ وړاندوینه کړې. زلینسکي دغه څرګندونې دغه هېواد ته د مهمو وسلو او تجهیزاتو د برابرولو په اړه د اوکراین د لوېدیځو متحدینو له مهمو پرېکړو وروسته کړي. اخوا اوکراینې ځواکونو د روسیې وروستي هوایي بریدونه په شا تمبولي دي. د اوکراین هوایي ځواک ویلي چې دوی د شنبې او یکشنبې په شپه په ټول هېواد کې د هوایي برید د خبرداري په اعلان سره څلور روسي کروز توغندي له منځه وړي دي. د اوکراین هوایي ځواک همداراز زیاته کړې چې دا راکټونه له ستراتیژیکو بم غورځونکو څخه توغول شوي دي. خو د اوکراین د وسله‌والو ځواکونو لوی درستیز پرون په خپله یوه ورځنۍ غونډه کې په خپل لنډ پیغام کې وویل چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې په ټول هېواد کې له ۴۰ زیاتې نښتې شوې دي.


## کارمند پیشین قنسلگری امریکا در روسیه به جاسوسی متهم شد

روسیه کارمند پیشین قنسلگری امریکا در شهرولادی وستوک را به جاسوسی متهم کرد. رسانه های روسیه به قول از منابع امنیتی آنکشور خبر دادند: یک کارمند پیشین قنسلگری امریکا در شهرولادی وستوک روسیه به جاسوسی متهم شده است. نیروهای امنیتی روسیه جزئیات فعالیت غیرقانونی یک کارمند سابق قنسلگری امریکا در شهر «ولادی وستوک» بود را فاش کرده و در بیانیه‌ی گفته‌اند: « «رویرت شونوف» در مقابل پاداش، مأمور جمع‌آوری اطلاعات از روند عملیات نظامی در اوکراین و بسیج نیروها در روسیه بود که آن را به دو کارمند سیاسی سفارت امریکا در مسکو محول میکرد' رویرت شونوف ازسپتامبر ۲۰۲۲ مامور گرد آوری چنین اطلاعات بود. گفته می‌شود که او همچنین اطلاعاتی در مورد مشکلات موجود در روسیه و ارزیابی آن بر فعالیت اعتراضی مرتبط با انتخابات ریاست جمهوری در سال ۲۰۲٤ جمع‌آوری کرده است. بر اساس این بیانیه، قرار است «جفری سلن» و «دیوید برنشتاین»، دو دیپلمات امریکایی در این رابطه مورد پرسش قرار گیرند

## هند کې د زدکوونکي څپېړې وهلو له امله ښوونځی وتړل شو

د هند اتر پردیش ایالت چارواکو د هغه خصوصي ښوونځي دروازې ته قلف اچولی چې یوې ښوونکې یې زدکوونکو ته د دوی د یوه مسلمان همټولګیوال په څپېړو وهلو امر کړی و. چارواکو ویلي د (نها) په نامه دا ښوونځی یې څکه تړلی چې «د پوهنې معیارونه یې په پام کې نه دي نیولي». د چارواکو په خبره، د دغه ښوونځي زدکوونکي به یوه بل حکومتي ښوونځي یا نورو نژدې ښوونځیو ته ولېږدول شي. په ورته وخت کې، ښوونکې ترپیتا تیاجي این ډي ټي وي خبري اژانس ته ویلي دا له خپلو کړو «خجالت نه» ده. د ماشوم کورنۍ ویلي، زوی یې وهل شوی څکه چې د ضرب جدول کې تېروتی دی. پر خواله رسنیو یوه وېډیو ډېره لاس په لاس شوې چې تیاجي په یوه کوچني خصوصي ښوونځي کې له خپلو زدکوونکو غواړي چې خپل اوه کلن مسلمان همټولګیوال په څپېړو ووهي. دا پېښه د اتر پردیش ایالت په مظفرنګر سیمه کې شوې ده.

# انتقال ۶ هزار تُن اموال تجاری ازبیکستان از راه افغانستان به پاکستان



عصمت ارگاشیف، نماینده خاص رئیس جمهور ازبیکستان در امور افغانستان می گویدکه کشورش در یک سال گذشته، حدود شش هزار تُن اموال تجاری را از طریق افغانستان به پاکستان انتقال داده است.ضیاء احمد تکل، معاون سخنگوی وزارت ... ص۵

# رخام ډبرو په ملي او نړیواله کچه ښه بازار موندلی



هلمند کې د حجارۍ او نجارۍ دولتي شرکت مسولین وایي، چې تولیداتو یې په ملي او نړیواله کچه ښه بازار موندلی دی. د هلمند د حجارۍ او نجارۍ دولتي شرکت د مسوولینو په وینا، په دې دولتي شرکت کې د حجارۍ او نجارۍ ... ۵مخ

# ایران کې افغان نرسانو او قابله ګانو ته روزنه ورکول کېږي

د ایران د عامې روغتیا وزارت او د ملګرو ملتونو د وګړو ادارې په ایران کې د افغان نرسانو او قابلو د روزنې یوه هوکړه لاسلیک کړې ده. د افغانستان لپاره د ایران ځانګړي استازي حسن کاظمي قمي تېره شپه پر خپله ټویټر پاڼه د دغې هوکړه خبر خپور کړی دی. تر اوسه معلومه نه ده چې څه شمېر افغان نرسان او قابلې په ایران کې اوسېږي، خو د افغانستان شاوخوا ۷ میلیونه وګړي دا مهال کډوال دي چې ډېره برخه یې ایران او پاکستان کې مېشت دي.

# ننګرهار کې ۷۰ سلنه کارګرو ماشومانو ته زده‌کړه ورکول کېږي

د ننګرهار د کار او ټولنیزو چارو ریاست مسوولین وایي، په دغه ولایت کې یې شاوخوا ۷۰ سلنه هغو ماشومانو ته چې په ښار او ولسوالیو کې په درنو کارونو بوخت دي، د زده‌کړو زمینه برابره کړې ده.دغه اداره زیاتوي چې یادو ماشومانو ته ... ۵مخ



# خوست کې د څښاک اوبو ۳ شبکې جوړېږي

د خوست د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت مرکز متون سربېره په اسماعیل خېلو مندوزیو ولسوالۍ کې د ۱۳ میلیونو افغانیو په لګښت د څښاک اوبو د درېو شبکو جوړولو چارې پیل شوې.د یاد ولایت د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مسوولینو د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې یادې پروژې د ناروې هېواد په مالي ملاتړ د دغه ولایت په مرکز متون اړوند کوټکي، پیران کلي او اسماعیل خېلو مندوزیو ولسوالۍ کوچه خېلو په کلي کې جوړېږي، چې ۵۷۵ کورنیو ته به د څښاک اوبو برابرې کړي.د یادونې وړ ده چې له دې وړاندې هم د یاد ولایت په یو شمېر نورو ولسوالیو کې ورته پروژې پلې شوې دي.




# تامین آب نوشیدنی برای هزاران خانواده در فراه



با ساخت شش شبکه ی آبرسانی درفراه، دوهزارو پنج صد خانواده، به آب نوشیدنی پاک دسترسی پیدا کردند. این شبکه ها، در ولسوالی پشت رود ساخته شده است؛ جایی که مردمان آن به آب نوشیدنی پاک دسترسی دارند.مفتی محمد نسیم سرهنگ رئیس احیا وانکشاف دهات فراه به آژانس باخترگفت که این شبکه ها به وسیله ی انرژی آفتاب ، آب را از دل چاه های حفرشده برون می کشد و ازطریق نل ها، در اختیار روستا نشینان قرارمی دهد.نهاد ای اچ اف، دوصدو پنجاه و هفت هزار ... ص۵

# بازداشت ده ها تن درپیوند به جرم های جنایی در کندز

ده ها تن در کندز، درپیوند به جرم های جنایی بازداشت شدند.این افراد ، درجریان دوهفته ی پسین، از شهر



وشماری ازولسوالی ها، درعملیات ها و هنگام بازرسی پولیس، شناسایی وبازداشت شده اند.دفتر مطبوعاتی پولیس کندزباپخش خبرنامه یی می گوید که دردوهفته ی پسین، آنان سی تن را درپیوند به دزدی، قتل، فساد اخلاقی، قمار بازی، جرایم الکترونیکی و اخلال نظم عامه ، بازداشت کرده اند.